امین بسمل


# پخوانی کفنکښ ښه و اجر ورکـړي

کوم نوروز او کوم اخـــتر دی کوم سرور؟
د افغــــان په کـــــــور ماتم دی لور په لور
ملک مقتل شو يکـــــي مشق کړي نابللي
زمونږ د نســــــل نابودي کـــــوي په زور
دا د چا په لاس د ورکړو پاکــه ربـــــه
نه يې شرم نه حيـــا شـــــته نه پيغور
له پايزار ســــره په سترگــو کي راخېژي
لاس ترلي ورته ناســت يو په خپل کـــور
ما ليــــــــدلـــي دنړی سري خواره ډېر
په دا تولـــوکی دا يـــو شو عالـــــم خور
خردجال پسي روان دي بی ايمانــــــه
په دنيــــا او اخــيرت يې کــــړی مخ تور
پاکه ربــــــه ته په خپله سزا ورکــړه
په خالي لاس به موږ کـوم يو کـړو نسکور
پخواني کفنکـښ ښــه و اجـر ورکـــړی
اوسنی هـــم کفن وړي هم ځـــه کړي نور
د حســاب ورځ ده راتلـونکي صبر وکړئ
تل به نـــــه وي د فـرعون لښـــکر خپور
په يخ تبغ يې تر نيمی پوري حلال کـړم
ستا لا شك دی "بسمل" سپين وي او که تور